www.esteqlaal.net
anwari@netzero.com

سلطان جان کلیوال

شنبه ۳۰ جون ۲۰۱۸

# دا وروري کــــه دښــمـــنـــې ده؟

دا وروري کـه دښمني ده، چـې يـو بـل پـه کانو ولو
د پـردۍ خـوښـې د پـاره، کلـي خـپل پـه کاڼو ولو؟؟
ته هم وايی چی انسان يم، زه هم وايم چی انسان يم
تـه هـم وايی مسلمان يم، زه هـم وايـم مسلمان يم
ته هم وايی چی افغان يم، زه هم وايم  چی افغان يم
خو يـو بل تـه مخا مخ يـو، سره تـل پـه کاڼـو ولـو
د دُښمـن خوښۍ د پـاره، بچـي خـپـل پـه کاڼو ولـو
** * **
هم شـريکه مو حيـا ده، هم شريکه مـو ده وينه
هم شـريکه مـو لـيلا ده، هم شـريکه مـو ده مينه
هم مو ژوند سره شريک دی، هم شريکه مو ده مرينه
غليمانو ئيو بيـل کـړی، پـه ګـوګل پـه کاڼـو ولـو
د جنت په شانته ښکلی، ګران کابل په کاڼو ولو
** * **
څو به سيزو خپل کورونه، څو به سيزو خپل باغونه
څو به سيزو خپل ننګونه، څو به سيزو خپل وياړونه
څو به سيزو خپلی ميندی، څو به سيزو خپل پلرونـه؟؟؟
تـول جهان را پوری خانـدی، کلي خپل پـه کاڼو ولـو
دا نـو څـه ډول وروری شوه، سره تل پـه کاڼو ولو؟
** * **
راځی يو کرت يو بل ته، د وروری لاسونه ورکړو
د هر غـم مقابلی ته، د دوسـتـی لاسـونه ورکړو

چی الله(ج) پری راضی کیږی، د راستی لاسونه ورکړو

لا تـرڅـو بـه کلـیـوالـو، زخمی گُل په کانو ولو

تـول جهان راپـوری خانـدی، چی کابل په کانو ولو

دا وروری که دُښمنی ده، چی یو بل په کانو ولو؟؟

--------------------------------

نوټ

دا شعر هم تکړه او د ښه استعداد شوقی هنرمند بشیر جان میدانی صاحب په خپل خواږه آواز کی د خوږی موسیقی سره ویلی دی چی په یوټوب کی یی د بشیر میدانی تر نامه لاندی میندلی شی. مننه.

جولای/ ۲۰۱۴ تورنتو ـ کاناډا